SHARIAT WEEKLY

شريعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال شپږ څلوېښتمه گڼه پرله پسې (۲۳۶) يکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د ربيع الاول (۱۳) د۱۳۷۸هـ ش کال د چنگاښ دمياشتې(٦)د۱۹۹۹ميلادي کال د جون (۲۷)

روز جهاني مبارزه عليه مواد مخدر

طي محفل شانداري در هوتل انتر كانتيننتال تجليل گرديد

تا اكنون از جانب امارت اسلامي افغانستان در حدود ۲۲۲۰ جريب كشت كوكنار از بين برده شده و دو تن مواد مخدر حريق گرديده است

اضرار و پيامد هاي ناگوار مواد مخدر از نگاه دين مبين اسلام ديروز طي محفليكه بخاطر بيست و شش جون روز جهاني مبارزه عليه مواد مخدر در تالار هوتل انتر كانتيننتال تدوير يافته بود توضيح و تشريح گرديد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : درين محفل كه برخي از وزراي سرپرست امارت اسلامي، مسؤولين ادارات و نماينده گان موسسات خيريه خارجي بورد بين المللي مواد مخدر و هيأت رهبري كميسيون عالي امارتي مبارزه با مواد مخدر اشتراك ورزيده بودند ابتداء آياتي چند از كلام الله مجيد توسط محترم قاري گل نبي الفت قرائت گرديد بعداً پيام محترم الحاج ملا محمد رباني رئيس شوراي سرپرست توسط محترم پوهندوي نصر الله ستانكزي كارشناس امور بين المللي و تشريفات رياست عمومي اداره امور به حاضرين قرائت گرديد كه در بخشي از آن آمده است : مواد مخدر مشكل عمده ايست كه سرحدات را نميشناسد و به اين ترتيب براي تمام كشور و ملل متحد يك مشكل بزرگ ميباشد و بايد واضح گردد كه بعضي كشور ها بنا بر عوامل عيني با پيامد هاي ناگوار مواد مخدر رو برو گرديده است كه افغانستان هم از جمله همين كشور ها است .

در اين پيام آمده است كه در جريان تهاجم روسها بر افغانستان و ادامه جنگها

ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ ځکه چې عدل (عدل) پرهېزگارۍ ته نږدې دی.

(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

به گراميداشت از ميلاد با سعادت حضرت محمد مصطفى ﷺ

اجتماعات بزرگ توضيحي و تشريحي در مركز و ولايات كشور تشكيل گرديد

پيروي كامل سنت نبوي «ﷺ» ضامن سعادت و پيروزي دنيا و آخرت انسانهاست

آنهائيكه معيار برتري شان را قوت مادي و نيروي بشري مي پندارند پايدار نخواهند ماند

به گراميداشت از ميلاد با سعادت حضرت محمد «ص» اجتماعات توضيحي و تشريحي در مساجد جامع مركز و ولايات كشور تشكيل گرديده به جوانب زنده گي پر بار پيشواي بزرگ انسانيت روشني انداخته و مسلمانان را به تأسي و پيروي در تمام شؤنات زنده گي شان به پيروي از آنحضرت «ص» فرا خواندند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : درين اجتماعات سخنرانان از دوره جهالت قبل از بعثت حضرت پيامبر اسلام «ص» به تفصيل صحبت كرده از حالت رقت بار و انحطاط انسانها در مسير نزولي شان كه زنده گي شان را فقط و فقط وقف اقناع غرايز شهوات و لذايذ نفس اماره ساخته بود به تفصيل صحبت كردند.

سخنرانان از امپراطوربهاي بزرگ جهان كه معيار برتري شان را قوت مادي و نيروي انساني تشكيل ميداد و اصلاً به روحانيت و معنويت و انديشه هاي منبعث از معنويت كه زنده گي ساز نيرو هاي متكامل انساني است وقعي قايل نبودند ياد كرده وضع جزيرة العرب را قبل از بعثت با پرستش بتهاي دست تراشيده و صنم ها ، زنده به گور كردن دختران كه وجود آنرا به خود عار ميدانستند جنگ هاي دوامدار جاهلي با عادات خرافي كه با انديشه هاي شرك توأم بود صحبت نموده و ضرورت پيشوا و

ص ٤

د مخدره موادو په خلاف د مبارزې د نړيوالې ورځې له امله د عاليقدر امير المؤمنين پيغام

ځرنگه چې د اسلام د دين له پلوه د مخدره موادو استعمال مردود دي او د انسانانو د هلاکت سبب کيږي له دې امله مونږ ټول ځرگند کړيده چې د افغانستان اسلامي امارت د مخدره موادو د مخنيوي په خاطر مثبت نظر لري. که څه هم نړيوال په افغانستان کې د کوکنارو د کرکيلې د مخنيوي په خاطر وکړولې شي د کروند گرو اقتصادي ستونزې حل کړي دغه مهم کار تر سره کيداى شي. او تر اوسه پورې نړيوال په دې کمار کې پورې شوي چې په اقتصادي برخه کې [illegible] هيوادوالو سره همکاري وکړي او د [illegible] مخنيوي په خاطر له هغوى سره [illegible]

به اثر مظالم و وحشتگري مليشه ها :

هزاران فاميل هموطن ما به هجرت از مناطق تحت ظلم مخالفين مجبور گرديده اند

شريعت : قرار اظهارات محترم مولوي گل محمد حنيفي مسؤول امور مهاجرين در شهر جلال آباد ، به اثر مظالم و وحشت مليشه ها هزاران فاميل هموطن ما به هجرت از مناطق تحت ظلم تفنگداران مسعود گرديده كه اكثر آنها در شهر و كمپهاي اطراف جلال آباد جاگزين گرديده اند .

قرار گزارش اموال و جايداد هاي مهاجرين از جانب افراد مسعود تصاحب و تاراج گرديده است . اداره امور مهاجرين در ولايت ننگرهار در راه رفع مشكلات آنها تلاشهاي همه جانبه نموده و در اين زمينه براي ۳۹۷٥۱ فاميل مهاجر مقدار ۸٦۷۸٥ سير مواد غذايي طي سال گذشته توزيع گرديده است از آن جمله ۹٦۰ بوري آرد ٤۹٥ بوري گندم ٦٦۰۰۰ كيلو خرما ۸۸۰۰۰ كيلو بوره و ۸٥۰ كيلو چاي و غيره مواد ارتزاقي بالاي آنها توزيع گرديده است .

تاراج معادن كشور توسط مسعود و افرادش ادامه دارد

صداي المان

هيلي گيرموند يك خبرنگار آلماني كه اخيراً از پنجشير ديدن نموده رابور ذيل را از چشم ديد خود در يك روزنامه آلماني به چاپ رسانيده كه خلاصه آن چنين است :

در منطقه خينج پنجشير او در حدود ششصد و پنجاه سمج را ديده است كه به غرض دريافت و استخراج زمرد بكار برده ميشود در اين سمج ها بيشتر از يكهزار و پنجصد تن مصروف كار اند ، موصوف مي گويد محمد قاسم يكتن از نزديكان مسعود طبق گفته خودش طي سال گذشته پنجصد هزار دالر از درك فروش زمرد بدست آورده است . زمرد بدست آمده تحت نظر مستقيم مسعود جمع آوري گرديده و بعد بفروش ميرسد ، سال گذشته مسعود بين بيست تا چهل مليون دالر از درك فروش زمرد بدست آورده بود .

امر الله صالح يكتن از مشاورين مسعود ميگويد در سال جاري پروسه استخراج زمرد را سرعت بخشيده و ممكن تا [illegible] دالر از اين طريق بدست [illegible] آورد . امر الله علاوه [illegible] مسعود اكنون [illegible] پوليندي قرار داد عقد [illegible]

فابريكه نساجي پلخمري روزانه ۱۹۰۰۰ متر تكه توليد مي نمايد

شريعت : با فتح ولايت بغلان از جانب اردوي امارت اسلامي افغانستان و تأمين امنيت و آرامش در آن ولايت فابريكه نساجي پلخمري مجدداً به كار آغاز نموده و در توليدات آن افزايش قابل ملاحظه به عمل آمده است .

محترم مولوي محمد اعظم «علمي» معين وزارت معادن و صنايع در اين رابطه چنين معلومات ارائه نمودند : فابريكه نساجي پلخمري اكنون به شكل بي سابقه آن فعال گرديده و روزانه در حدود ۱۹۰۰۰ متر تكه توليد مي نمايد در حاليكه در سابق توليدات روزانه اين فابريكه از ۱۰۰۰۰ متر بيش نبود. همچنان فابريكه سمنت غوري نيز فعال بوده و روزانه ۸۰۰۰ بوري سمنت توليد مي نمايد.

د هيواد په مركز او ولايتونو كې:

ديرش نوي فابريكې د جوړيدو په درشل كې دي

كابل : په هيواد كې ديرش نوي فابريكې د جوړيدو په درشل كې دي دغه نوي فابريكې به چې د مركز په شمول په ځينو ولايتونو كې جوړيږي زموږ د ۳٤۳۸ تنو وزگاره هيواد والو لپاره د كار زمينه برابره كړي.

د افغانستان د اسلامي امارت د اقتصادي كميسيون يو تن مسؤل دغه مطلب د خبرگندولو په ترڅ كې زياته كړه چې دغه فابريكې به په كابل ، كندز، هرات، او جلال آباد كې جوړيږي په دغو فابريكو كې به ده غوړيو، صابون، درمل جوړولو او نساجي فابريكې شاملې وي.

د لوگر ولايت د ځرخ په ولسوالۍ كې د احمديه دارالعلوم د بنسټ ډبره كيښودل شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ [illegible] هغو مراسمو كې چې له هغې امله په [illegible] ولسوالۍ كې پر ځاي شول له [illegible] چې د كلام الله مجيد [illegible]

د لوگر ولايت د ځرخ ولسوالۍ د احمديه دارالعلوم د مدرسې د بنسټ ډبره پرون له غرمې مخكې د يو لړ مراسمو په ترڅ كې كيښودل شوه .

از مبارزه جهانيان عليه مواد مخدر در شهر كندهار طي محفلي تمجيد بعمل آمد

بخاطر تجليل از ۲٦ جون روز جهاني مبارزه عليه مواد مخدر اجتماع وسيعي در ستديوم ورزشي ولايت كندهار تدوير يافته و ضمن قرائت پيام عاليقدر امير المؤمنين پيرامون اضرار و پيامد هاي اجتماعي اخلاقي و صحي مواد مخدر صحبت گرديده و در

ص ٤

د كابل په ښار كې د قرآن كريم د تلاوت تشويقي سيالي تر سره شوه

د كابل ښار د ښېرو جوماتونو د طالب العلمانو تر منځ د قرآن عظيم الشان د تلاوت تشويقي سيالۍ پرون د وزير اكبر خان په جامع جومات كې وشوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ چې په پيل كې د حج او اوقافو وزارت اداري معين محترم الحاج مولوي قلم

٤ مخ

د شمالي وزيرستان د قومونو مشرانو يو ځل بيا د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل پيوستون اعلان كړ

د شمالي وزيرستان د قومونو مشرانو يو هيأت چې په دې ورستيو وختو كې كابل ته رارسيدلي دي يو ځل بيا يې د افغانستان له اسلامي امارت سره د خپلو قبيلو د خلكو د پيوستون واو وركړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د سرحدونو او قبايلو د چارو د وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي جلال الدين حقاني پرون له غرمې مخكې په خپل استوگنځي كې د شمالي وزيرستان

مخ

بمنظور مقابله با كفار مسلمانان جهان بايد متحد شوند

شيخ الحديث محترم مولوي عبدالعلي ديوبندي

كابل : لازم است تا مخالفين I.I.I توبه نموده از مخالفت با I.I.I دست كشيده و از خداوند«ج» طالب مغفرت گناهان خويش گردند .

اين مطلب را محترم شيخ الحديث مولوي عبدالعلي ديوبندي طي گفتگو با يك جريده خارجي ابراز داشته است .

محترم مولوي ديوبندي علاوه نموده اند مخالفت امارت اسلامي و عاليقدر امير المؤمنين شرعاً ناجايز و حرام بوده و تمام مخالفين بايد از بغاوت دست كشيده و مقابله با دين خداوند«ج» و قرآن را ترك نمايند، تباهي ملت و مملكت به اشاره دشمنان اسلام جزء حماقت و جنون چيزي بيش نيست . اسلام دين صلح و آرامش بوده و ما حق داريم تا قانون شرعي را در كشور خدا پياده نماييم و هيچكس حق اعتراض بالاي ما را ندارد و حكم صريح الهي است كه مسلمانان بايد غرض مقابله با كفار متحد شوند.

سرمقاله

دلوى خداى (ج) په نامه

۱۲ ربيع الاول :

روز ظهور نوريكه از مكه درخشيد و بر همه جهان تابيد

دوازدهم ربيع الاول يا روز مولود مسعود حضرت سرور كائنات «ص» از ايام ميمون و خجسته تاريخ اسلام محسوب ميگردد، در اين يوم ميمبرك سردار دو عالم «ص» پا به صحنه هستي گذاشت و جهان را به نور وجود مطهرش منور گردانيد.

قبل از درخشيدن و تابيدن نور محمدي «ص» در جهان ، عالم بشريت در يك تنگناي تار جهالت و وحشت بسر مي برد. انسانيت مفهوم واقعي خود را به باد فنا داده بود و بازار زور گويان و زر داران بشكل بي سابقه يې گرم بود، انسان زنده خريد و فروش ميگرديد ، به هر ناكرده مجبور ميگشت و

ص ۲

د حو تنو قوماندانانو تر نيولو وروسته :

مسعود اوس پر خپلو نږدې انډيوالانو هم اعتبار نه كوي

د يو تن عيني شاهد له قوله ويل كيږي مسعود وروسته تر هغه چې د قوماندان ملا تاج محمد په شمول په چاريكارو او تخار كې يې خپل څو تنه قوماندانان ونيول اوس په خپلو ډېرو نږدې انډيوالانو هم اعتبار نه كوي، دغه شاهد چې په دې نږدې ورځو كې له چاريكارو څخه راغلي وايي چې مسعود اوس په مهمو ځايونو كې پنجشيريان گومارلي او د نورو ولايتونو په كسانو يې زړه شكمن شوي دي. نوموړي زياتوي چې مسعود د پنجشير د ستري پوځي قرارگاه د لوژستيك، مالي او ديپو مسؤلين چې د تخار او بدخشان خلك وو له كاره گوښه كړي او پر ځاي يې پنجشيري افراد مقرر كړيدي همدارنگه د مليشو په ډلگي كې اوس پنجشيريان ځانونه د هر ځه واكداران بولي او پر نورو كسانو ځانونه پر شميري، هغوى تهديدوي او ستونزمن كارونه هغوى ته سپاري او هر وخت هغوى رټي، د مسعود د خاصي ډلې افرادو دا شان وضعيت په مليشو

٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»

دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پستبکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷

جاري حساب : $\frac{٤-۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

به تعمیل هر نا به جا واداشته مي شد، زن اصلاً انسان پنداشته نمي شد، مورد شکنجه، تجاوز و تحقیر قرار میګرفت، زنده به ګور مي ګردید و وجودش عار پنداشته مي شد، در چنین یك مرحله وحشت بار، باران فضل و مرحمت الهي یکبار دیګر بر عالم بشریت باریدن ګرفت و با ظهور نور درخشان حضرت محمد «ص» پیام نجات و سعادت به انسان مژده داده شد و این مژده بعد از بعثت حضرت محمد مصطفي«ص» به مقام ارشد پیغمبرګ شکل عملي را به خود ګرفت، جهالت و وحشت جاي خود را به علم و محبت خالي نمود، شیوه اخوت در بین انسانها عام ګردید ګلیم قتل و غارت و فسق و فجور چیده شد و نسیم خوشګوار صلح و صفا و نیکي وزیدن ګرفت مرد مقام خود را یافت و زن نیز در مقام خویش قابل احترام پنداشته شد از مظالم و تجاوزات نجات یافت و قدومش باعث رحمت پذیرفته شد و به مقامي رسید که جنت در تحت قدم هاي شان باید جستجو ګردد.

پیروان اسلام با عشق و محبت بي آلایشي که به پیامبر ګرامي«ص» خویش داشتند با ایمان مستحکم در راه اسلام از هیچ نوع فداکاري و عرق ریزي دریغ ننموده و بالآخره از فیض قرباني ها و زحمات شان دین اسلام به سراسر ګیتي انتشار یافت و در هر کنج و کنار جهان نعره هاي الله اکبر زمزمه ګردید که الحمد لله تا امروز باقي و زنده است. اما افسوس که اکنون مسلمانان جهان با کج روشي ها و انحرافات خویش از دین مقدس اسلام یکبار دیګر مورد ملامت و مظالم جهان کفري قرار ګرفته و روز بروز مظلوم تر شده میرود، عزت و مقامي را که مسلمانان از فیض تعمیل احکام الهي«ج» حاصل نموده بودند یکي پي دیګر از دست میدهند چه رسد به آن که رسالت عظیم دعوت به اسلام را به پیش برده و بشریت را از تاریکي هاي شرك و کفر نجات دهد، مسلمانان جهان از باعث غفلت شان از دین مقدس اسلام اینك به مشابه مخلوقات قابل استهزأ و استحصال تبدیل ګردیده ، از جانب استکبار جهاني همیشه و در هر جا مورد تحقیر و تجاوز قرار ګرفته و به صحنه نیستي کشانیده میشود، عوض فرهنګ و کلتور اسلامي مزخرفات غربي و شرقي بر مسلمانان تعمیل ګردیده و نسل جدید اسلامي در جاده انحرافات فرهنګ و عادات کفري شرق و غرب سرګردان در حرکت است، زن مسلمان تحت عنوان آزادي و داشتن حقوق مساوي با مرد از چوکات اسلام کشیده میشود و همچو زن غربي به وسیله هوس بوالهوسان تبدیل میګردد، حیثیت و آبرویش به نام هاي خیالي و مجهول مورد تجاوز و تحقیر قرار میګیرد و آن مقام شامخي که ضامن حفظ عفت، عصمت و هویت اسلامي زن بود و از برکت اسلام برایش اعطاء ګردیده بود در معرض خطر قرار ګرفته خلاصه اینکه در شرایط کنوني جامعه اسلامي بنا بر انحرافات از احکام اسلام، بر سر پرتګاه خطرناك مظلومیت و نابودي قرار ګرفته است، لازم است تا آن چنان که پیامبر ګرامي اسلام«ص» با مجاهدت و دعوت بي مثال خود پیام آزادي و سعادت را به بشریت عرضه داشت و امت اسلامي را اعزاز و افتخار بخشید اکنون نیز مسلمانان جهان از خواب غفلت بیدار ګردیده و با تطبیق و تعمیل کامل شریعت مقدس اسلامي یکبار دیګر به مقامي دست یابند که جهانیان از آنها اسالیب زندګي، سعادت، حریت و تمدن را آموخته و یکبار دیګر اسلام پیشتاز ادیان جهاني ګردد.

د جان کینډي دوسیه

خبر دي چي د روسیي جمهور بوریس یلتسن د امریکي د پخواني جمهور رئیس جان کینډي د وژلو دوسیه جمهور رئیس بل کلنټن ته سپارلي ده .

د امریکي پخواني جمهور رئیس جان کینډي په ۱۹٦۳ م کال کي د امریکي په تکزاس کي د ناپیژندل شویو تروریستانو له خوا ووژل شو، ددغه وژني عاملین لکه یو پټ راز همداسي پټ پاتي شو که څه هم امریکایي مقاماتو پدي اړه پلټني وکړي او ددغه وژني په تور یې یو تن ونیو خو وروسته څرګنده شوه هغه اسناد او شواهد چي پدي اړه تري ګټه اخیستل شوي وه جعلي ؤ تر دي چي د قاتل په نوم د نیول شوي شخص د تصویر په اړه یې هم دا ډول شك را منځ ته کړي ؤ .

په هر صورت د جان کینډي قاتل تر دي دمه نه ؤپیژندل شوي پدي توګه دغه قتل د یوي معما بڼه غوره کړي وه چي متحده ایالات یې هم په حل کولو کي پاتي راغلي ؤ .

خو کوم اسناد چي دا اوس اوس یلتسن په المان کي د خپل ملاقات پر مهال بل کلنټن ته سپارلي څرګندوي چي جان کینډي د پخواني شوروي اتحاد د جاسوسي اداري له خوا تر ورشوي دي.

په متحده ایالاتو کي د جان کینډي د ترور دوسیه په دوران کي وه چي دا دي له ۳٦ کالو وروسته به دغه اسناد د هغي د وروستني پریکړي لار اواره کړي .

خبره په دي کي وه چي د متحده ایالاتو لاس دومره اوږد شو چي د خپل پخواني رقیب، ولس مشر یلتسن لاس هغه اسناد ورته سپاري چي «اشد محرم» ګڼل کیدل، کیداي شي داسي نوري دوسیي او اسناد هم د متحده ایالاتو لاس ته ورشي چي په هغه کي له ډېرو پټو اسرارو او رازونو پرده پورته شي او په نړیواله سطحه څه واقعیتونه او حقایق را منځ ته کړي.

متحده ایالاتو خپلي ډېري دوسیي تر لاسه کړي په لاکربي کي د پن امریکن د الوتکي د نسکوریدو په پیښه کي ککړ لیبیایان د محاکمي له پاره هالیند ته ورسپارل شوي او په لیبیا هم لګول شوي بندیزونه پورته کړل شول ، پدي توګه ډګروال قذافي له ډېري نارامي او سرزوري وروسته امریکي ته پر ګرېډه سر کیښود.

میلا سویچ د ناټو بمباریو ته وسله کیښوده داسي ښکاري چي ډېر نور هم په پلان کي دي چي که په زور وي که په رضا دغه کرسي ته یې راکاږي

خبره د جان کینډي د ترور په دوسیه کي وه چي د یلتسن له خوا بل کلنټن ته وسپارل شوه په روسیه کي به ډیري داسي نوري دوسیي هم وي په دي کي به یوه د افغانستان دوسیه وي خو د افغانستان دوسیه لا بشپړه شوي نه ده، ددغي دوسیي د تورنو لست لا تکمیل نه دي دغه لیست ډېر اوږد دي یلتسن تر اوسه دغه دوسیه بشپړه شوي نه ګڼي، معنا دا چي دوسیه به لا نوره، هم په دوران کي وي او چلیږي به ددغي دوسیي تورن دومره ډېر دي چي د هاګ نړیواله محکمه هم د هغي له پریکړي ناتوانه ښکاري، که نه نو اوس به د وخت د جنګي مجرمینو په توګه محاکمه شوي وو.

میلا سویچ به محاکمه شي، صربي جنرالان به په بیلا بیلو جزاګانو محکوم شي؛ میلا سویچ په کوسوا کي البانیایي مهاجرو پر ضد د نژادي جګړي او جرمونو په تور د ناټو تر بریدونو لاندي ونیول شو خو د افغانانانو او افغانستان تباهي او بربادي تورن سپین بازان دي، د خلق او پرچم د جرمونو، خیانتونو او جنایتونو داغونه رباني، دوستم، مزاري او مسعود په وینو پرېمنځل دوي په خپلو اعمالو د هغوي مخونه سپین کړل که خلقیان او پرچمیان هر څو ګورباچوف او یلتسن پدي پوه او بیوفا بولي او تري ګیله من وي چي یې یار او مددګاره یې په رڼه میدان براځي پرېښودل او د یتیمي سختي چاپېړي یې پر مخ وخوړي خو دا توره او میړانه یې ښایي هیره نه کړي چي د دوي له لاسونو یې د ظلم خونړي داغونه پر مسعود، مزاري او دوستم وینځل او د هغه خونړي دوران ظلمونه او ناتار یې پري هیر کړه، ځکه خو خلقیان او پرچمیان ښایي د ګورباچوف او یلتسن دغه احسان او نیکي هیره نکړي له همدي ځایه ده چي د افغانستان له دوسیي خلقیانو او پرچمیانو په سرو سترګو ځانونه وایستل او په وینو سره لاسونه یې د مجاهدینو په نوم د څو تنو په لمنو پاك کړل .

لیکي پاڼي

شهرت ننګیال

داکتر محمد نذیر «احمدزي»

د ربیع الاول دولسمه هغه سپېڅلي ورځ ده چي د نړۍ پر مخ ژوندیو ته یې له یوه سره یو نوي ژوندون ور په برخه کړ. تیاري یې ټولي او د یوه تلپاتي رڼا فرش یې د ځمکي پر مخ وغوړاوه، د نا پوهي او د دي توري پدیدي ټولي زیږندي یې د نیستي لوبي کندي ته ورټېل وهلي، انسان ته یې انسانیت ورویاښه او د خپل خلقت په اصلي موخي یې پوه کړ. په دغه مبارکه ورځ د اسلام د سپېڅلي دین ستر لاربنود او د الله وروستني استاځي او پیغمبر نړۍ ته تشریف راوړ او په خپل نوراني قدم یې نړۍ روښانه کړه، په نړۍ کي یې د جهالت، کبر او سرغړولي ټولي نښي «د کسرا قصر او د آذر ګشسب آتشکده» یې ونړولي او انسان ته یې د انسان له مریتوب څخه د خلاصون او یواځي د الله«ج» د بنده ګي د زیري وېښې وړیو کړي، ورځي، میاشتي او کلونه تیر شول، د اسلام ګران پیغمبر«ص» د یتیمي د تږکنده غرمي د ویلونکي لمر سوځونکي وړانګي وزغملي، بیایي په ځواني کي د امانت، نیکو خویونو او میړاني آوازي تر هر لوري خپري شوي، «بحیرا » او «نستورا» یې د روڼ او له مسؤلیته ډك راتلونکي ژوند په هکله مخکي له مخکي څرګندوني وکړي او حقایق یې بیان کړل، د «حرا» په سمڅ کي یې پنځلس کاله هر کال یوه میاشت په سوچ او د الله«ج» په ذکر کي تیره کړه، او کله چي د ژوندانه په څلوېښتم کال جبریل علیه السلام د «اقرأ» ویلو حکم ورته وکړ یو ستر او بي ساري دروند پېټی او مسؤلیت ور په برخه شو دیارلس کاله یې دډېرو کړاوونو په زغملو سره پټ او ښکاره د حق لوري ته بلنه وکړه او بیا چي کله په خپل زېږن ځاي کي د غلیمانو له لاسه د ژوند بهیر ورته ناشوني شو د خپل پالونکي په امر د خپل پلرني ټاټوبي پرېښودلو ته تیار شو او له هغه سره یې خداي پاماني وکړه او بیایي لس کاله حق ته د بلني په وینا او له حق څخه د ساتني په لار کي د توري تر ځلکا لاندي مبارك ژوند تیر کړ او هغه وخت چي د الله له اړخه یې د «الیوم اکملت» په کلام سره د ماموریت موده بریالي او پوره وښودل شوه الهي قضاته یې په ټاکلي ورځ لبیك ووایه او د «ترکت فیکم امرین ...» په الفاظو کي یې د خداي کلام او خپل سنت مونږ ته په میراث پرېښودل ... نن بیا د هماغه میاشتي دولسمه ده کومه چي زموږ ګران پیغمبر په نړۍ کي سترګي پرانیستي وي. له هغه وخته تر اوسه د نړۍ مسلمانان په ډول ډول دودونو د دغه مبارکي ورځي نمانځنه کوي، ځوك خیراتونه کوي، ځوك ذکرونه، ځوك غونډي جوړوي او ځوك هم د هغه مبارك «ص» له سیرت څخه یادونه کوي، هر کال دا هر څه کیږي، خیراتونه خیټو ته ننه کیږي او د نعتونو او ذکرونو د آوازونو انګازي هم په فضا کي خپریږي او مخلصینو ته به مهرباني خداي«ج» اجرونه هم ورکوي، خو دا خبره د یادوني او څیړني وړ ده چي ایا د اسلام د ستر لاربنود «ص» د مېني او درناوي مقام همدومره ده چي فقط په کال کي دي یوه ورځ ونمانځل شي او یا دي خیراتونه او محفلونه جوړ شي؟ زما په خیال که د پورتنیو دودونو په ځاي یا تر څنګ د نړۍ مسلمانان دغه ورځ د ځان لپاره د خپلو کړو وړو او له ځان سره د هري شیبي تر څنګ د حساب کتاب د ورځي په شان و انګیري او ځان وتلي چي څومره یې د خپل لاربنود لاره تیغه نیولي او په عمل کي یې د هغه مبارك مینه او دوستي په ځان کي ښودلي ده، ډېره به ښه وي‌ا د حضرت محمد «ص» ژوند خو د یوه کامل انسان ژوند ؤ هغه مبارك د ژوند او دنیا هر راز ښه او بد ولیدل له هر راز انسانانو سره مخامخ شو او په هر مقام کي یې شپې ورځي تیري کړي، د پیغمبري مبارك دوران، د اسلامي لښکر د ستر قوماندان په توګه دنده، د جهاد ستونزي ، د سوبو او بریاوو ډګرونه او له نبوت څخه مخکي د تجارت، سیمه ایز کارو بار او د یتیمي او بیکسي شپې ورځې، په دي ټولو حالاتو کي هغه مبارك «ص» داسي لاري چاري غوره کړي چي تر نن پوري زموږ د ویاړ سبب ګرځیدلي ، ځان او خپلو پیروانو ته یې د الهي رضا مشالونه بل کړي او د یوه برمیال ژوند او هوسا آخرت لپاره یې ټولي لاري په ګوته کړي، نو نن ورځ زموږ امیر، زموږ وزیر، زموږ قوماندان ، زموږ مجاهد، زموږ عالم، زموږ طالب ، زموږ سوداګر، زموږ مامور، زموږ بیوزلي او زموږ یتیمان که په رښتیا غواړي چي دنیوي او اخروي عزت او بریالیتوب یې په نصیب شي د خپل ګران لاربنود ژوند ته دي نظر وکړي او د هغه مبارك د ژوند هغه پړاو دي وګوري چي دي اوس په کي ده او بیا دي هغه شان عمل وکړي لکه ده مبارك «ص» چي کړي ، که مو داسي وکړل نو خداي پاك «ج» ته هیله شته چي ډېر ژر مو ستري ستري سوبي په نصیب شي د ژوند ستونځي مو حل او د عزت دروازي مو پر مخ خلاصي شي او په آخرت کي مو هم له خپل رحمت او د هغه مبارك «ص» له شفاعت څخه یې برخي نه کړي. ددي خبري پوره تصدیق په کار ده چي د حضرت محمد «ص» ژوند تلپاتي رڼا ده او موږ باید له دغي رڼا لري نشو!!

یاد واره یی از فرخنده میلاد با سعادت

«سالك»

جامه سیه کرد کفر، نور محمد «ص» رسید
بار دگر مه شگافت، روح مجرد رسید

روزگارانیکه بشر از همه ارزشهاي انساني بي بهره بود، اخلاق و فضیلت، عدل و انصاف بکلي از جزیرة العرب رخت بر بسته و جهان و جهانیان یکسره در وحشت، ظلم و بربریت تن در داده و در اسارت و ذلت زندگي نا مطلوب داشتند، زمانیکه سردمداران کفر و اهریمنان جاهلیت بر افراد مستضعف و محروم جامعه حکمروائي ظالمانه داشتند و هویت آزادگي و اصالت انساني شان واژگون و تحت فشار و انواع گوناگون فساد، رذیلت، حق تلفي، قساوت درنده خویي اربابان زور و زر و تزویر قرار داشتند و آنگاهیکه روحیه عاطفه و رحم از جوامع تجرید شده بود اعراب بنا بر سنگدلي و بي رحمي دختران معصوم و جگر گوشه خود را بطور ظالمانه زنده بگور میکردند و زنان را چون مال و متاع و وسیله اشباع غریزه جنسي در قمار مورد تاخت و باخت و شرك و بت پرستي به اوج خود رسیده بود و در مقدسترین سرزمین الهي«ج» و بویژه در خانه خدا«ج» «٣٦٠»بت را نهاده بودند و جهالت بیداد میکرد در چنین اوضاع و حالات اسفبار خداوند«ج» که ذات ارحم الراحمین است با طلوع نور محمدي «ص» در ١٢ ربیع الاول سال ٥٧٠ میلادي در روز دوشنبه بر همه مظالم و سیه روزیهاي بشریت خط بطلان کشیده و نور رحمت للعٰلمین در سرتاسر جهان تابیدن گرفت کفر و شرك و بت پرستي یکسره از جهان نابود و در **مقابل خدا پرستي، توحید، برادري و برابري میان اقشار بشریت سایه گستر شده عدل و انصاف، راستي و صداقت، زهدو- تقوي و همه و همه سجایاي عالي انساني در میان طوائف- بشریت بر قرار و برتري و ارزش تمام انسانها بر ملاك تقوي بنیانگذاري گردید و بر تبعیضات نژادي، قومي، زباني خاتمه داده شد .**

با ظهور میلاد فرخنده رهبر عالم بشریت و دین مبارك و نجات- آفرین اسلام و شریعت مطهره، جهان از انوار ایمان و بشاشت اسلام و همه فضایل و اخلاق، آزادي و آزادگي، ترقي و تمدن مالامال گردیده و عقیده ناب توحید توسط داعیون سر بکف اسلام و صحابه، کبار «رض» با ایثار و فداکاري و جهاد پخش شد حاکمیت طاغوت و قلدر به دیار عدم رفت .

حضرت پیامبر بزرگوار اسلام«ص» نور خدایي بودند که از آوان طفولیت تا شباب از عهد بعثت و نبوت تا هجرت و از هجرت بمدینه، منوره تا رحلت تمام عمر شریف و گرانبهاي شان در راه اعلاء کلمه حق و اعتلاء جامعه انساني و رفاه و سعادت اولاد آدم در «٦٣» سال گذشت و براي امت مسلمه و جهان بشریت دو دستاویز بزرگ و رهنمود جاوداني یعني قرآنکریم و سنت هدایت خود را قرار دادند که تا روز قیامت سرمدي اند و بشریت گمراه را به نور معرفت به صراط المستقیم شریعت رهبري میکند.

نیکمرغه میلاد

عبدالرحیم "ثاقب"

ورځ دي د میلاد ده اي د دووکونو سلطان نبي   اي په الله گران نبي
ډېره خوشحالي کړي پدي ورځ ستا امتیان نبي   اي په الله گران نبي
ستا له پاك میلاد سره دنیا ته سعادت راغي - سراسر رحمت راغي
ولاړي ظلم ولاړي چي په ځاي ئي عدالت راغي - مینه او اخوت راغي
ستا وجود ډېره و منور بي کړ جهان نبي   اي په الله گران نبي
تا له پاك میلاد سره دنیا ته معرفت راوړ - هم دي هدایت راوړ
ختم مادیت شو چي په ځاي دي روحانیت راوړ - تول دي نورانیت راوړ
څومره بختور شول په وجود دي انسانان نبي   اي په الله گران نبي
مخکي له راتلو دي په دنیا کي استبداد ؤ - ظلم و الحاد ؤ
خوار بشر لاهو چي په دریاب کي د فساد ؤ - شرك وارتداد و
نه و لو په خلکو کي عزت هیڅ د انسان نبي   اي په الله گران نبي
ډېره ناپوهي وه پیداښت دلوڼو عار و - سخته استعمار ؤ
گرم په جهان کي د فتنو عظیم بازار ؤ - ټوله استثمار ؤ
هم بي معبودان ول په کعبه کي ډېر بتان نبي   اي په الله گران نبي
ستړي بشریت شو چه بي نه موند د ازادي ژوندون - هم د خپلواکي ژوندون
دوي باندي حاکم ؤ په هر ځاي کي غلامي ژوندون - هم د خود خواهي ژوندون
لاره د نجات بي ورکه کړي وه کاروان نبي   اي په الله گران نبي
نه وله رڼا دنیاگي ټوله تیاریکو کي وه - غرقه ظلمتو کي وه
نې وله بقا نوره رهي په ورکیدو کي وه - سر په څوړېدو کي وه
ټوله بشریت ؤ خپل ژوندون باندي پښېمان نبي   اي په الله گران نبي
تا پخپل میلاد سره تیاره دنیا روښانه کړه - ټوله دي ودانه کړه
حق چي دي اعلان کړ د باطل خونه دي ورانه کړه - دادي په ښه شانه کړه
ستا گلشن ته راغلل له هر لور نه بلبلان نبي   اي په الله گران نبي
ستا ښکلي میلاد دي د ښکلا او ازادي میلاد - دا د خوشحالي میلاد
دا د عظمتونو پر تمنو نیکمرغي میلاد- دا د سوکالي میلاد
زه «ثاقب» دي پاته صفتو کي یم حیران نبي   اي په الله گران نبي

د شعر او ادب پاڼه

جې گ... د ... شعر ... ادب ...

میلاد خجسته

میر عبدالرقیب«...»

رهبر والا مقام خیر الأنام احمد«ص» بود
هاشمي امي لقب بدر تمام احمد«ص» بود
صاحب طٰهٰ و یٰسین فخر ...
داعي توحید، مصباح ظلام احمد«ص» ...
مولدش بطحٰي و یثرب پر فروغ از مقدمش
سید اولاد آدم در پیام احمد«ص» بود
عالم و آدم طفیلش یکسره ...
باني خیر و فضیلت در نظام احمد«ص» بود
دفتر انوار وحي صدر شریفش جایگاه
جبرئیل در خدمت والا مقام احمد«ص» بود
مرحبا بر سید و سردار کونین ...
صاحب معراج و قرآن شرع تاء احمد«ص» ...
نعت فخر المرسلین«ص» ورد زبان گوینده«جهید»
لایق مدح و ثنا و هم سلام احمد«ص» بود

میلاد نور

خورشید جمالت به جهان کرد تجلا   شد پهن عدالت به همه گوشه، دنیا
از روي تو شد هستي و ایجاد دو عالم   معدوم بشد ظلم ، مساوات هویدا
در وصف رخت آیت والشمس دلیل است   مکنونه والليل، ز گیسوي تو پیدا
اي قافله سالار همه در دم محشر   وي نام خوشت سطوت این ساحه، غبرا
آیین تو، تابنده بود تا بقیامت   رخشنده چو آیینه و چون شیر مصفا
چون زین همه مخلوق تویي مطلب اصلي   این صحنه گیتي شده از فیض تو زیبا
در شان تو خاصیت خوبان همه موجود   گلزار خلیل و دم عیسي ید بیضا
جبریل به دنبال تو در سدرة فرو ماند   رفرف چو خرامید، سوي عالم بالا
نعلین تو زیب حرم عرش معلا   خاك قدمت کحل ملایك شب اسراء
امروز به تهنیت مولود شریفت   در جامع اسلام، چه خوش نطق و بیان ها
دارد چو«نصیب» از کرمت با همه عصیان   امید شفاعت ز درت در صف عقبا

... و پروردگار«ج» نور را آفرید!

وحید "مژده"

خداوند«ج» قبل از همه نور را آفرید... در خبر است که پیامبر«ص» در جواب سوال یکي از اصحاب«رض» که پرسید : نخستین مخلوقي که خداوند«ج» خلق کرد چه بود ؟ فرمود : نخست از همه خداوند«ج» نور پیامبرت را آفرید ... .

پیامبران ماقبل همه بر بعثت خاتم پیغمبران در فرجام زمان و زمانه بشارت دادند. به ظهور پیامبري که دیني به بشریت ارمغان مي آورد که ناسخ ادیان ماقبل و رهنماي بشریت تا قیام قیامت خواهد بود.

در صحف و کتب نازل شده بر پیامبران پیشین آدم«ع» تا عیسي«ع» ایماء اشاره و تصریح به ظهور این پیامبر رفته بود. از وهب ابن منبه که یکي از علماي یهود بود و مطالعاتي در ادیان ماقبل داشت و بعداً به دین اسلام مشرف شد و از یاران و اصحاب پیامبر«ص» گردید نقل است که فرمود : خداوند«ج» به آدم «ع» وحي فرستاد که منم خدایي که مالك مکه ام و اهل مکه همسایگان من اند و زایران کعبه مهمانان من. من این خانه را شهرت به پیامبري خواهم داد از اولاد تو، ابراهیم نام که آنرا عمارت کند و هر امتي که از عقب یکدیگر آیند، آنرا معمور دارند تا نوبت رسد به پیامبري از اولاد تو بنام محمد «ص» که خاتم پیغمبرانست.

قرنها قبل از ظهور پیامبر«ص» کعب ابن لوي) که از اجداد قریش و از شاخه قریش (بطاح) بود، اوصاف پیامبر«ص» را در صحف ابراهیم دیده بود وي در یکي از روز هاي جمعه که مقارن با آخرین روز هاي حیاتش بود قوم خود را گرد آورد و ضمن وصیت به نیکویي و خیر به آنان تأکید نمود که در محافظت کعبه بکوشند که روزي خواهد رسید که شأن حرم عظیم شود و پیامبري مبعوث گردد که نام مبارکش محمد «ص» باشد و بعد با حسرت گفت: ایکاش مرا تا آن زمان مجال حیات مي بود که تا کمر به حمایت از وي مي بستم ... این وصیت را قوم وي نسل در نسل بخاطر داشتند.

وهب‌ابن منبه مي گوید : در کتب آسماني که بر بعضي از انبیاي مرسل نازل شده بود خوانده ام که خداوند«ج» فرمود : در روز **آفرینش آسمانها و زمین حکمي مرقوم کرده ام که دیني ظاهر کنم که بر همه ادیان غالب آید ...**

آن نبي عربي امي باشد ... نرم کردار بود، در بازار ها آواز بلند سر ندهد و بیهوده نگوید. من با او در هر نکویي مدد کنم و به وي اخلاق کریمه ارزاني دارم. در زبان او سکینه نهم و تقوا شعار او سازم. حق و عدل سیرت او بود و ملت او رفیع القدر و با برکت باشند. از یمن او قلوب مختلفه را متفق گردانم و امت او را از روي اخلاص بهترین سازم. در طاعت کوشند و در راه خداوند«ج» ترك خانمان و مال و منال کنند.

در راه حق با کفار و دشمنان اسلام مقاتله نمایند و صف هاي شان در جهاد و نماز یکسان باشد. شبها در طاعت باشند و در میدان کار زار چون شیر با دشمنان خدا«ج» مصاف دهند.

در جزء ثاني از سفر پنجم تورات که هفتاد تن از احبار یهود بر صحت آن اتفاق نموده اند از ظهور پیامبري سخن رفته است که داراي دو صفت خاص است : نخست اینکه این پیامبر از بني اسرائیل نباشد و دیگر اینکه این پیامبر چون موسي «ع» صاحب شرع باشد این دو صفت خاص در مورد پیامبر بزرگ اسلام صدق مي کند.

عبدالله بن سلام یکي دیگر از اصحاب پیامبر «ص» که او نیز قبل از مشرف شدن به دین اسلام از علماي یهود بود وصف خاتم النبیین«ص» را در تورات خوانده بود و چون با پیامبر«ص» مقابل شد و آن نشانه ها را در وي مشاهده کرد، ایمان آورد.

داکتر (محمد حمید الله) دانشمند مسلمان فرانسوي طي تحقیق ارزشمندي، از اشاره یکي از قدیمي ترین کتب هندو ها بنام (پران) که بر بعثت خاتم پیغمبران«ص» دارد سخن مي- گوید. داکتر حمید الله مي نویسد : در کتاب (پران) که هزاران سال قدامت دارد آمده است که در آخر زمان پیامبري ظهور مي کند که قومش با او به مخالفت مي پردازد و او مجبور مي شود تا بطرف شمال زادگاهش هجرت نماید. بعداً او با جمعي از پیروان خویش شهر زادگاه خود را فتح مي- کند. شتر این پیغمبر آنقدر تندرو است که در یك لمحه فاصله میان زمین و آسمان را طي مي کند.

تند رو بودن شتر پیامبر را میتوان اشاره به معراج دانست که درین کتاب آمده است. داکتر حمید الله مي نویسد : عجیب است که در قرآن مجید به موضوعاتي که در کتب قدیم نیز آمده است حواله داده شده و مثلاً آمده است که این موضوع در کتب قدیم نیز آمده است و (پران) که نام این کتاب هندو هاست نیز به معني قدیم است ! در انجیل (که بعداً نصارا آنرا تحریف کردند)آمده بود که عیسي «ع» فرمود :

چون فارقلیطا (پارا کلیتوس) مبعوث گردد، به پیامبري من گواهي دهد که من عیسایي پیامبر بوده و تبلیغ رسالت به صداقت نموده ام. پیامبر اسلام «ص» به پیامبري عیسي «ع» گواهي داد و بهتان یهود و نصارا را در مورد او و مادرش مریم تکذیب نمود.

(پاراکلیتوس) در زبان یوناني به معني (احمد) یا (ستوده شده) است اما در انجیل این کلمه را تحریف نموده و (پاراکلیت) یا (فارقلیط) نوشتند . (پاراکلیت) به معني تقویت کننده یا تسلیت دهنده است. در انجیل یوحنا آمده است :

« اگر شما مرا دوست داشته باشید فرمان هاي مرا بخاطر خواهید سپرد و من نزد خداوند«ج» براي شما دعاي خیر خواهم کرد و او بعد از من براي شما یك (پاراکلیت) خواهد فرستاد و من نخواهد گذاشت که شما یتیم بمانید. »

عیسویان مي گویند : مقصود حضرت مسیح این بود، که این (پاراکلیت) بین عیسوي ها و خداوند«ج» واسطه خواهد بود تا عیسویان تنها نباشند. و باز بقول مسیحان پنجاه روز بعد از (رحلت حضرت مسیح «ع» (پاراکلیت) که همان (روح القدس) است آمد و تا کنون بین خداوند و مسیحیان واسطه است. در حالیکه نصارا کلمه را که حضرت مسیح «ع» گفته بود تحریف کرده اند و به این ترتیب در دین توحیدي بنیاد تثلیث یعني سه گانه پرستي را نهادند روایات متعددي وجود دارد مبني بر اینکه قرنها قبل از بعثت پیامبر«ص» کاهنان و غیب گریان از بعثت وي و حتي اینکه وي از قریش خواهد بود خبر داده بودند.

بنا بر این ظهور یك پیامبر جدید در آن وقت کاري نبود که غیر منتظره باشد. این مسئله بحدي بدیهي مي نمود که بقول ابن خلدون مؤرخ نامدار اسلام ، بسیاري از رؤساي عرب بر این گمان داشتند که شاید آن برگزیده او باشد.

هر چند اعراب جزیرة العرب درین عصر اکثراً بت پرست بودند و لي در میان آنان عده یهود و نصارا نیز وجود داشت و اینها از روي قراین و نشانه ها طلیعه خورشید نبوت را نزدیك مي دیدند و غیر از اینها اکساني هم وجود داشتند که پیرو هیچکدام از ادیان و آئین نبودند ولي به وحدانیت خداوند«ج» باور داشتند که این افراد را (حنیف) مي نامیدند، آنها در جستجو طریق ابراهیم«ع» بودند. از آن جمله (ورقه ابن نوفل) بود که بعداً نصرانیت را برگزید و او بود که بعد از نزول وحي بر پیامبر«ص» گفت که محمد «ص» پیامبر است و آنچه که شنیده وحي مي باشد که بوسیله جبرئیل«ع» بر وي نازل شده است. و از جمله این حنیف ها یکي هم (زید بن عمرو) پسر کاکاي حضرت عمر «رض» بود که به هیچ دیني داخل نشد ... پرستي و خوردن گوشت مردار و ... اعراض مي کرد و زنده بگور کردن دختران را نهي مینمود او مي گفت: الٰهي پروردگار من! اگر میدانستم چه شیوه یي را در عبادت دوست داري ترا همانسان مي پرستیدم ولي نمیدانم! انگاه کف دست هایش را بر زمین مي نهاد و سجده مي کرد. روزي پسرش سعید و حضرت عمر«رض» از پیامبر اکرم پرسیدند که آیا براي (زید بن عمرو) طلب آمرزش کنیم! پیامبر «ص» فرمود : آري او در قیامت بصورت یك امت واحد بر انگیخته مي شود !

زمان مي گذشت و دیده ها چشم بر راه مطلع اختر تابناك نبوت بود تا اینکه واقعه عام الفیل پیش آمد و خداوند«ج» ابرهه و سپاهش را نابود ساخت .

در همین سال بود که جهان با مقدم فرخنده پیامبر واپسین منور گردید ... آنرز که زمین لرزید ... بت ها سرنگون شدند و آتش آتشکده ها افسرد، کنگره هاي قصر کسري شکست برداشت...(او) بدنیا آمد ... و مثل علي خیر خلقه و نور عرشه ...

اجتماعات بزرگ توضیحي و تشریحي در مرکز و ...

رهبر را به جهانیان جهت نجات آنها از ظلمات به روشنايي که همانا اعتقاد به وحدانیت و جلوگیري از خرافات و پیروي از نفس اماره است بر جسته ساختند .

سخنرانان جدو جهد و تلاشهاي سازنده حضرت پیغمبر «ص» را در ساختن عقیده و روان انسانها و نجات جوامع انساني از سقوط و تباهي به تفصیل صحبت کردند نجات آنها را پیروي کامل شان از سنت و راه و روش آنحضرت «ص» وانمود ساختند و آنرا سعادت و پیروزي دنیا و آخرت خواندند.

این اجتماعات در قوماندانی عمومي قواي هوايي و مدافعه هوايي، مسجد جامع خواجه ملا واقع کارته سه، مسجد جامع حاجي مرزا واقع ده افغانان ، مسجد جامع احمدي کارته نو، مسجد کویتي خیرخانه مسجد جامع ملتاني مرکز پغمان، مدارس آریانا ، قاري عبدالله و یکته توت ، مسجد جامع قریه خیل، قریه نصرت خیل ، منطقه ولسوالي سید آباد ولایت وردك میدان پوهنتون هرات، مسجد جامع حضرت رهیل ابن عمرو مکروریان چهارم و مکروریان سوم. مسجد جامع شهر پلخمري و مساجد جامع ولایت بغلان ، مسجد جامع پل خشتي ولایت سرپل و مهمانخانه ولایت غزني و در مسجد جامع ده عربان قرغه صورت گرفته است . همچنان بمناسبت گرامیداشت از میلاد مسعود حضرت سرور کائنات «ص» عنواني عالیقدر امیر المؤمنین ، شوراي محترم سرپرست و کافه ملت مسلمان افغانستان پیام از طرف شاغلي جلال الدین اوزر رئیس عمومي مدارس افغانستان - ترکیه و اتیلا خالد معاون آن موسسه مواصلت ورزیده است که در آن گفته شده است :

خداوند بزرگ چون عالم هستي را بخاطر شگفتن گل زیباي محمدي «ص» و درخشش آفتاب احمدي آفرید ، صحبت محمدي «ص» را در نهاد تمام موجودات جاندار و بیجان پخش و آنرا تعبیه نمود با ولادت ایشان هجده هزار عالم غرق نور گردید و مقصود الهي بحقیقت پیوست.

در قسمتي ازپیا م اضافه گردیده است که در دوران هاي اخیر که همه بشریت در گردابي از ترس و درجهاي جانکاه آه و فریاد سرداده اند در همین نقطه است که تمام انسانیت یا در آن گرداب تباه و هلاك میگردند و یا به اساس ارشادات قرآن و سنت بسوي پیغمبر اسلام«ص» توجه نموده به او ایمان مي آور ند و مسلمان میشوند.

پیښې او پرمختګونه　حادثات و انکشافات

نیرو هاي حافظ صلح روسیه وارد کوسووا گردید

اولین دسته از نیرو هاي حفظ صلح روسیه بعد از ظهر دیروز وارد پرستینا مرکز ایالت کاسووا گردیدند.

این عساکر در میدان هوايي پرستینا با صد ها تن از عساکر روسیه که قبل از ورود نیرو هاي ناتو بصورت ناگهاني وارد آنجا شده بودند پیوستند.

این عساکر که رقم آنها به سه هزار و پنجصد نفر بالغ میگردیدند در چار چوب قوماندانی سازمان اتلانتیك شمالي یا ناتو ایفاي وظیفه خواهد داشت. از حملات انتقام جویانه مهاجرین عودت کننده علیه صربها جلوگیري بعمل آورده و در تأمین صلح در کاسووا خدمت کنند.

طبق یك خبر دیگر حالت اضطراري جنگ که سه ماه قبل در یوگوسلاویا نافذ اعلام گردیده بود دیروز رفع گردید . تصمیم در مورد این رفع حالت جنگي از طرف جلسه پارلمان یوگوسلاویا که در آن سلوبودان میلوسوویچ رئیس جمهور آنکشور نیز حضور داشت اتخاذ گردید.

د ناتو سر منشي کوسوواته سفر وکړ

د شمالي اتلانتیك یا ناتو د تړون سر منشي هاویر سولانا او د ناتو لوي درستیز جنرال ویسلي کلارك د لومړي حل لپاره د جګړې له پاي ته رسیدو وروسته د کوسووا ایالت ته سفر وکړ هغوي ته د کوسووا په پایتخت پرستنیا کي ددغه ځاي د خلکو له خوا تود هر کلي ووېل شو . هاویر سولانا د کوسووا له اوسیدونکو څخه غوښتنه وکړه چي ددغه ایالت په بیا ودانولو کي ونډه واخلي. ده دغه راز له صربیانو او البانیایانو نه وغوښتل چي په خپلو کي روغه جوړه وکړي.

په شپږو افریقایي هیوادو کي د امریکي سفارتونه وتړل شول

د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په افریقا کي ددغه هیواد شپږ سفارتونه د امنیتي دلایلو له امله د دریو ورځو لپاره وتړل .

د رویټر د خبري آژانس د رپوټ له مخي د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یو مقام ووېل په زمبیا، لیبریا ، توګو، مدغاسکر، نامیبیا او سینګال کي ددغه هیواد سفارتونه به د سرطان تر شپږمي نیټي پوري تړلي وي.

او په ټوله نړۍ کي به د امریکا د متحده ایالاتو سفارتونه د امنیتي اندیښنو د زیاتوالي له امله او د تروریستي بریدونو سره د مقابلي لپاره د تیار سي په حال کي وي .

ایتوبیا و اریتریا به جنگ علیه یکدیگر ادامه میدهند

کشور هاي ایتوپیا و اریتریا با وصف تقاضا هاي شوراي امنیت سازمان ملل متحد به جنگ علیه یکدیگر ادامه میدهند .

شوراي امنیت سازمان ملل متحد دو کشور را که هر یك دیگري را مسؤول دامن زدن به جنگ معرفي میکند خواسته بود جنگ را متوقف ساخته و طرح صلح سازمان وحدت افریقا را بپذیرند.

درین طرح پیش بیني شده است که واحد هاي اریتریا خاك ایتوپیا را ترك نموده مقررات آتش بس اعلام و یك نیروي صلح بین المللي در منطقه جاگزین گردد .

میان ایتوپیا و اریتریا از ماه مي سال ١٩٩٨ به این طرف جنگ خونین جریان دارد که عامل آن ادعاي ارضي متقابل است .

امریکا و ملل متحد لبنان و اسرائیل را به شکیبایي دعوت نمودند

سازمان ملل متحد و ایالات متحده امریکا از حکومات لبنان و اسرائیل بدنبال تشدید اوضاع در سرحد میان دو کشور تقاضا بعمل آورده است تا بخاطر جلوگیري از گسترش جنگ در منطقه از تحمل و شکیبایي کار گیرند.

برخورد هاي چند روز اخیر میان دو کشور در سه سال اخیر بي سابقه بوده است . شوراي امنیت سازمان ملل متحد از هر دو جانب خواسته است تا جنگ را متوقف ساخته و با نیرو هاي حفظ صلح ملل متحد که میان دو کشور مستقر است همکاري نمایند.

ایالات متحده امریکا در زمینه از کشور سوریه خواسته است تا بخاطر جلوگیري از توسعه جنگ از طریق فشار وارد کردن به سازمان مبارزین حزب الله نیشار در امر توقف حملات آنها بالاي اشغالگران اسرائیل وساطت و اقدام نمایند.

د لوګر ولایت د ځرخ ...

ایتونه ولوستل شول د لوګر والي محترم الحاج مولوي ضیا الرحمن مدني ددغي مدرسي د بنسټ ایښودلو په ترځ کي د اسلامي امارت د اقداماتو او کړنو په تیره بیا د جوماتونو دارالعلومونو او د دیني علومو د نورو مرکزونو ته د پاملرني په اړوند خبري وکړي.

وروسته ددغي ولسوالي څو تنو عالمانو او اوسیدونکو په دي برخه کي د اسلامي امارت له پاملرني څخه خوښي څرګنده کړه او د طالب العلمانو د پوهي د سطحو د لوړولو او دیني علومو د زده کړي په کار کي یي د احمدیه دارالعلوم د مدرسي د بنسټ ایښودل ګټهور او ارزښتمن وبلل ددغي مدرسي د بنسټ ایښودلو په مراسمو کي د لوګر ولایت د ابتدائیه مدرسو رئیس د ځرخ ولسوالي د محکمي رئیس، یو شمیر عالمانو او روحانیون او ددغي ولسوالي دیندارو خلکو ګډون کړي وو.

روز جهاني مبارزه ...

زیربناي اقتصادي و تولیدي کشور یا از بین رفته و یا شدیداً خساره مند گردیده است تاسیسات عام المنفعه از قبیل شبکه هاي آبرساني برق، فارم هاي زراعتي، باغ ها ، سرکها ، سر بند ها ، سیستم آبیاري و ساحه وسیعي از زمین هاي زراعتي از بین رفته است ملیونها نفر شهید، معلول و مهاجر گردیده اند که این همه باعث بروز این مشکل گردیده است .

همچنان در پیام در رابطه به اقدامات مثبت و ارزنده امارت اسلامي که بخاطر جلوگیري مواد مخدر روي دست گرفته یاد دهاني شده و تذکر بعمل آمده است که سازمانها و موسسات خیریه و سازمان ملل متحد و سایر کشور ها بایست با امارت اسلامي افغانستان در مبارزه علیه مواد مخدر از هیچگونه کمك مالي و تخنیکي دریغ نورزند زیرا مبارزه با تولید ترافیك ، قاچاق و تجارت مواد مخدر یك مبارزه جهاني میباشد.

سپس محترم ملا عبدالحمید آخند زاده رئیس عمومي کمیسیون عالي امارتي مواد مخدر گزارش کار و فعالیت آن کمیسیون را ارائه نموده گفت : تا اکنون به مساحت دو هزار و دو صد و بیست جریب زمین را که در ولایات ، کندهار و هلمند کوکنار کشت گردیده بود از بین برده و هم به تعداد سي و چهار باب لابراتوار مواد مخدر که در ساحات لوي ولسوالي شینوار فعالیت مي نمود از بین برده شده و دو تن مواد مخدر را در محضر عام در شهر جلال آباد حریق گردیده است .

متعاقباً پیام هاي شاغلي کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد و رئیس دفتر کنترول مواد مخدر و مبارزه با جرایم افغاني آن سازمان توسط شاغلي کلود درود جنرال منیجر پروګرام انکشافي بورد بین المللي کنترول مواد مخدر ملل متحد براي افغانستان قرائت گردید.

د کابل په ښار کي ...

الدین د مولود شریف د نیکمرغه ورځي د فضیلت او د قرآن عظیم الشان د تلاوت د سیالیو د اهمیت په باب خبري وکړي. او د هیواد د طالب العلمانو په ښوونه او روزنه کي یي ددغه شان تشویقي سیالیو تر سره کول مهم او ګټهور وبلل.

وروسته دغه سیالي د کابل ښار د شپږو جوماتونو د طالب العلمانو تر منځ پیل شوه چي په نتیجه کي د شاه مدیني د جومات او د حضرت ابوبکر صدیق«رض» د جوماتونو طالب العلمان د سیالي ګټونکي وپېژندل شول چي د حج او اوقافو وزارت د محترم اداري معین لخوا د سیالیو ګټونکو سوغاتونه وویشل شول.

د هیواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو !

شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتني ، پالني، او روزني ټینګ او ولاړمن فرهنګي سنګر دي.

راځئ چي په خپلو قلمي لوریتو ، رغنده وړاندیزونو او پر ځاي ګوت نیونو د اوونیزي منځپانګه لا بډایه او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندي خپل مسؤولیت تر سره کړو .

اداره

د مخدره موادو په خلاف ...

وکړي.

د نړیوالو د باور د ټینګښت په خاطر اوس هم په بیلا بیلو ځایونو کي د کوکنارو یو زیات شمیر بوټي د بهرنیو خبریالانو په وړاندي بیخي له منځه وړل شویدي او هلي ځلي کوو چي د شرایطو په مساعد کیدو سره د کوکنارو کرکیله بنده کړو .

والسلام

د اسلام خادم ملا محمد عمر «مجاهد»

تاراج معادن کشور ...

و آنها را به استخراج معادن پنجشیر و بدخشان دعوت نموده است .

با توجه به راپور فوق چنین نتیجه گیري میگردد که مسعود و تفنگدارانش به خاطر منافع خود و بادارانش بعد از اختتام چپاول دارایي هاي عامه و ملي اکنون به چور و غارت معدنیات کشور کمر بسته و به این خیانت ملي نیز کمر بسته است .

مسعود اوس په خپلو ...

پوري اړوند نور کسان سخت راپارولي او هر څوك په دي لټه کي دي چي یا ځانونه وباسي او یا هم اسلامي امارت ته تسلیم شي تر څو د مسعود او د هغه د کسانو له شر څخه ځانونه خلاص کړي په پاي کي دغه شاهد زیاتوي چي په عام ولس باندي هم د مسعود د افرادو لخوا سخت ظلمونه او تیري کیږي او ولسي خلك اوس په دي دعا دي چي ژر تر ژره مسعود او د هغه ډلګي ختمه او دوي د کراره ژوند خاوندان شي.

از مبارزه جهانیان ...

رابطه به موقف امارت اسلامي افغانستان بخاطر جلوگیري مواد مخدر در افغانستان بحاضرین معلومات داده شد.

د شمالي وزیرستان ...

د قومونو له مشرانو سره وکتل.

ددغي کتني په ترځ کي د قبایلي مشرانو د هیأت رئیس محترم حاجي جلات خان ، محترم مولانا حیات الله ، محترم حاجي ګلاب خان، حاجي خان بت خان او محترم حاجي مهربان په وار سره د خپلو قومونو په نمایندګي د خپلو هر اړخیزو خبرو په ترځ کي د اسلامي امارت له هدفونو او سیاستونو سره د ملاتړ په ترځ کي ژمنه وکړه چي په خپل ټول توان سره د اسلامي امارت د شرعي هدفونو ملاتړ کوي او یو ځل بیا یي د افغانستان له اسلامي امارت سره د قبایلي خلکو د پیوستون ډاډ ورکړ .

دغه راز دوي د ډاډ من امنیت د ټینګښت او د خلکو د سر مال او ناموس په ساتنه کي د افغانستان د اسلامي امارت د بریالیتوبونو یادونه وکړه او د شریعت د نافذولو او عملي کولو په خاطر یي په خپلي هر راز همکاري او سرښندني باندي ټینګار وکړ .

په مقابل کي د سرحدونو چارو وزارت محترم سرپرست د هغوي د ښو ولولو درناوي وکړ او د جهاد په دوران کي د قبایلو د فعال او مثبت رول د درناوي په ترځ کي یي د قبایلو د تاریخي کارنامو په باب رڼا واچوله او د استعماري قوتونو په وړاندي یي د هغوي غوځ دریځ وستایه او د افغانستان له اسلامي امارت سره یي د قبایلو د خلکو د همکاري او پیوستون قدرداني وکړه.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

په افغانستان کي د زعامت هیڅ خلا او ستونزه نشته

افغانان له منل شوي او محبوب زعیم نه برخمن دي

د اسلام د دښمنانو سترګي هغه وخت له خاورو ډکي شي کله چي واوري د افغانستان له اسلامي امارت سره دومره وسله وال مخالفین بو ځاي شول، له هاغي او هاغي سیمي نه مخالفین وتښتیدل، داسي بي ساري امنیت دي، هغي او هغي کمپني د مخابراتي سیستم، هغي او هغي کمپني د سمنتو جوړولو، هغي او هغي کمپني د تیلو د پاکولو او نورو ځاګانو کیندلو، هغي او هغي د کانونو د راایستلو او ... پروتوکول لاسلیك کړ، دومره د بریښنا شبکي په کار واچول شوي، دومره سیمو ته بریښنا ورسوله شوه، دومره وراني فابریکي ترمیم او بیرته په کار واچولي شوي، دومره زراعتي فارمونه بیرته احیاء او په کرکیله واچول شول، دومره پوهنتونونه په هیواد کي د لوړو زده کړو په لړ کي د هیواد زامن روزي، دومره کلینیکونه، دومره روغتونونه، دومره مدرسي او جماتونه بیرته ودان او د هیوادوالو د ګټي اخستلو لپاره په کار واچول شول... !

دغه پرمختګونه چي اوس الحمد لله بیخي زیات شوي دي د اسلام او هیواد په دښمنانو باندي دروند ګوزار او رڼا ورځ توره شپه کړي او ددغه شرعي نظام اسلامي امارت په وړاندي نظامي، سیاسي او تبلیغاتي خنهونو رامنځ ته کولو ته متې بد وهي؛ په اوس وخت کي چي په هیواد کي د دوي مسلح لاس پوځي مخ په ورك کیدلو دي نو د اسلام او هیواد دښمنان په تیره بیا د عصر فرعونیان سخت وارخطا دي او توندي هلي ځلي کوي چي له هیواد نه بهر د غیر مسلحو مخالفینو کتار جوړ کړي په دغه ترځ کي نن سبا له هیواد نه بهر لویه ګڼه ګوڼه په کار اچوله شوي ده، غونډي جوروي، سفرونه کوي، ډیل خرڅونه او لګښتونه ورکوي، څوك د زعامت خبري کوي، څوك د لویو جرګو، څوك د کاري ګروپ، رادیو یي مرکي خپروي، د اخبارونو خوله هم ورخوږوي، غټ غټ عنوانونه او عکسونه ورته چاپوي لټه دا چي اوس اوس له هیواد نه بهر رنګیني صحني او مزي چړچي رواني دي؛ په دي کي د پخوانیو رژیمونو هغه بیر پرانګان ، د هیواد د شمنتیو قانوني(!) لوټوونکي، په هیواد کي د کمونستي تیالګیو ایښودونکي او پالونکي په هیواد کي د اسلام تر نوم لاندي د فحاشیو او عریانیو را منځ ته کوونکي، په هیواد کي د اسلامي حجاب دښمنان او د هغه له منځه وړونکي، په هیواد کي د علم او روحانیت د توهین جنایتکاران، د شرعي نظام، حدود او قصاص په پټه منکرین ډیر پکي اوړي راواړي، او ښه پوهیږي چي د هیواد په اوسني شرعي او اسلامي فضا کي د دوي لپاره د تنفس مجال هم نشته مګر چي ویني د اسلام او هیواد دښمنانو د پیسو دروازي په دواړو پلو د دوي مخي ته پرانیستي دي نو ځکه بي صلاحیته تصمیمونه نیسي، اعلاونونه کوي، د بانکونو چکونه اخلي او خپل جیبونه ډکوي،

که، نه ! دوي به پوهیږي یا به یي اوریدلي وي چي په اسلامي نظام کي د زعامت ټاکنه د اهل الحل و العقد دنده ده او بس ، که یي نه وي اوریدلي نو اوس دي یي واوري؛

اهل الحل والعقد په شریعت کي علماي کرام، پوه او دیندار مسلمانان دي په افغانستان کي اهل الحل و العقد خپل کار په خپل وخت لا پخوا سر ته رسولي دي، له عالیقدر امیر المؤمنین سره یي شرعي بیعت کړي دي مسلمان ملت آمنا وریسي کړي ده، سږ کال او تیر کال په لس ګونو زرو علماوو کرامو او نیکو مسلمانانو د لویو غونډو په ترځ کي بیا بیا د خپل بیعت او عالیقدر امیر المؤمنین د کړنو او کړنلارو (پالیسیو) تایید کړي دي؛

په دغه ترتیب سره په افغانستان کي د زعامت، رهبري او قیادت مسئله حل ده او هیڅ ستونزه نشته !

د مسلمان هیواد لپاره د ملي او شرعي مشر او منل شوي زعیم د شتون په وخت کي د اسلام ددښمنانو په لسون د زعامت خبري پورته، پورته کول، له بغاوت نه پرته نور څه نه دي او د بغاوت د له منځه وړلو لپاره په اسلامي فقه کي واضح لاره ټاکلي شوي ده؛

د افغانستان اسلامي امارت په دننه او بهر کي له ټولو افغانانو څخه غواړي چي ددغه وران هیواد او در په در هیوادوالو لپاره که د بیا ودانولو او امنیت په ټینګښت کي مرسته نه کوي نو د ستونزو را پیدا کولو هڅه خو دي بیخي نه کوي چي په هغه کي یي هیڅ خیر نشته !

همدارنګه له ټولو ګاونډیانو او بهرنیو هیوادونو نه غواړي چي د نورو ستونزو راپیدا کولو په ځاي دي ددغه حاکم نظام (اسلامي امارت) مرسته او ملاتړ وکړي تر څو په سیمه کي امن او ثبات ټینګ شي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press